مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اڅر ۲۰۲۴/۰۴/۲۴

د یهودو عادلانه جګړې

(نهویشتمه برخه)

(نازي اسراییلي ړندې بمبارۍ او د فلسطین بېګناه او بېدفاع ماشومانو عام وژنې.)

د یهودانو د سرکښیو عوامل

په تېرو لیکنو کې یادونه شوې ده چې یهودان په دې باور دي چې موږ د نړۍ له ټولو قومونو غوره، سپېڅلی، ځانګړی او لوړ قوم یو. تر دې چې یوازې خپل ځانونه انسانان بولي، نورو قومونو ته د څارویو په نظر ګوري، وایي چې زموږ خدای یهوه، غیریهودان د دې لپاره د انسانانو په څېر جوړ کړي چې موږ په خبرو ورسره پوه شو ترڅو زموږ لپاه ښه خدمت وکړای شي.[1] ادعا کوي چې موږ د خدای زامن او د یهوه خدای د سترګو تور او ځانګړی میراثي او عزیز قوم یو. دا هم وایي چې موږ د پېغمبرانو له پښته (نسل) څخه یو، په ځانګړي توګه د ابراهیم[2] او اسراییل (یعقوب) زامن یو چې اسراییل له یهوه خدای څخه هم ځواکمن ؤ.[3] د دغو دلایلو پر بنسټ، د نړۍ له ټولو قومونو څخه لوړ، سپېڅلی او غوره قوم یو.

یهودان د دا ډول خرافاتو له امله فکر کوي چې رښتیا هم د خدای قوم او د رښتینو پېغمبرانو زامن دي، یهودانو د دا ډول موهوماتو انګېزې د خپل قومي او خیالي خدای یهوه او خپلو دروغ ویونکو پېغمبرانو او خاخامانو له پوچو خرګندونو څخه اخیستې دي.

د یهودو به دیني سرچینو کې دا ډول غولوونکي خرافات په پرلهپسې توګه راغلي چې څو بېلګې یې په لاندې توګه وړاندې کوو. د یهودو پېغمبر موسی وایي چې اسراییل د یهوه خدای لپاره یو غوره، ځانګړی شوی، سپېڅلی او د هغه

[1]: د تلمود د هلاخا کتاب.
یهودان دا ډول بېبنسته او بېمنطقه ادعاګانې کوي خو د یهودانو په کتاب تورات کې د غیریهودانو په اړه له هغو مالوماتو غافل پاتې دي چې د نړۍ ټول قومونه، د اسراییلو په شمول د یوه پلار (نوح) زامن بلل شوي دي:«د نړۍ ټول قومونه د نوح له درو زامنو رامنځ شوي دي.» (پیدایښت:۹/۱۹)
[2]: متیَ انجیل:۹/۳.
[3]: د تورات د پیدایښت کتاب: ۲۲/۳۲تر...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

میراثي قوم دی:**«دا چې تاسو سپیڅلی قوم یاست، د یهوه خدای لپاره ځانګړی شوی یاست، هغه د ځمکې له ټولو قومونو څخه تاسو انتخاب کړئ، ترڅو د هغه غوره قوم واوسئ.»** (د ګردان کتاب:۶/۷)
د اسراییلو قومي خدای یهوه وایي چې زما قوم د نړۍ له قومونو سره توپیر لري، تر دې چې که د اسراییلو قوم ته څوک زیان ورسوي، داسې وبوله لکه یهوه خدای ته یې چې زیان رسولي وي او یهوه د خپل قوم ساتندوی دی:**«... څوک چې تاسو ځوروي، هغه یهوه خدای ځوروي ځکه چې تاسو د یهوه خدای د سترګو تور یاست.»** (د زکریا کتاب:۸/۲)
«لکه څرنګه چې د اورشلیم له ښاره چاپېره غرونه تاؤ دي، همداسې **یهوه خدای د خپل قوم چارچاپېره دی** او تر ابده به له هغوی ساتنه کوي.»[4] (د مزامیرو کتاب:۲/۱۲۵)

د اسراییلو د کبر او غرور بله وجه دا ده چې فکر کوي دوی د خدای زامن دي[5]، د اسراییلو خدای یهوه، په بېلابېلو مرحلو او حالاتو کې اسراییل څو ځله خپل زامن او ځان یې د دوی پلار بللی دی:**«زه به د هغوی پلار او دوی به زما زامن شي... .»** (د سمویل دویم کتاب:۱۴/۷)

د اسراییلو د ناوړه کړنو او له غیراسراییلو سره د دوی د جګړو او ځان لوړ ښودلو یوه انګېزه دا هم ده چې دوی په دې ګروهه دي چې زموږ نېکه یعقوب له آره د خپلې مور په خېټه (رحِم) کې له خپل غبرګوني ورور سره په کشاله کې ښکېل ؤ، وایي: **هغه مهال چې د اسحاق دوه زامن، یعقوب او عیسو د خپلې مور (ربکا) په نس کې د ودې په حال کې وو، په خپل منځ کې په نښته (کشمکش) لګیا وو،** هغه وو چې«ربکا وویل: دا څه راپېښ شوي دي؟، نو په دې اړه یې له یهوه خدای څخه پوښتنه وکړه. یهوه خدای ورته وویل:ستا دوه زامن چې ستا په نس کې دي، دوه ملتونه به ترې رامنځ ته شي، یو به له بل څخه ځواکمن وي، مشر به د کشر مریي (غلام) وي. کله چې د زیږیدلو وخت راورسید نو ربکا دوه کم وزنه [هلکان] وزیږول، لومړی زوی چې وزیږید، د مخ رنګ یې سور او تن یې داسې له ویښتانو ډګ ؤ لکه پوستین یې چې آغوستی وي نو پر هغه یې د (عیسو) نوم کېښود. دویم زوی یې چې [د زیږدو پر مهال یې] د عیسو د پښې پونده نیولې وه، هغه یې یعقوب[6] ونوماوه.» (د پیدایښت کتاب:۲۲/۲۵تر۲۶پورې)

د اسراییلو د سرکښیو یو بل بنسټیز عامل د اسراییلو د پلار یعقوب (چې وروسته د اسراییل په نوم ونومول شو) له یهوه خدای سره (چې د انسان په ښه څرګند شوی ؤ) د غېږې نیول او زور ازمویل دي چې ټوله شپه له یهوه خدای سره زور ازموینه کوي چې تر پایه یهوه خدای پر یعقوب باندې نه شي بریالی کیدی، تر دې چې یهوه خدای ځان هم نه شي ترې خلاصولی نو یهوه خدای د یعقوب نوم په اسراییل وربدلوي چې د (ټینګ او غښتلي) مانا لري، په دې هکله د تورات د پیدایښت په کتاب کې راغلي دی:«یعقوب د شپې [له خوبه] ویښ شو، خپلې دوه میرمنې، مینځې، یوولس زامن او ټول توکي یې له ځان سره واخیستل، د اردن سیند غاړې ته ورسیدل، هغوی یې د یبوق (نومی ځای چې د اوبو څخه د پورې کیدلو لار وه) هغې غاړې ته پورې کړل او دی هلته پاتې شو. بیا یو سړی هغه ته ورنږدې شو او تر سپیده داغ پورې یې له ده سره غېږه ونیوله، کله چې **هغه سړي ولیدل چې نه شي کولی پر یعقوب بریالی شي، نو په ادوم (ورانه) باندې یې وواهه او د یعقوب پښه زیانمنه شوه، بیا هغه سړي وویل: پرېږده چې ولاړ شم ځکه چې سپیده داغ راوخوت، یعقوب وویل: تر څو چې ما ته برکت رانه کړې، نه دې پرېږدم چې له دغه ځایه ولاړ شې.**
هغه سړي پوښتنه وکړه: ستا نوم څه دی؟.
ځواب یې ورکړ: یعقوب.
هغه ته یې وویل: **وروسته له دې ستا نوم یعقوب نه، بلکې اسراییل دی[7] ځکه چې د خدای او خلکو پر وړاندې ټینګ ولاړ یې او بریالی شوی یې.**
یعقوب له هغه وپوښتل: ستا نوم څه دی؟
هغه سړي وویل ولې زما د نوم پوښتنه کوې؟ بیا یې په هغه ځای کې یعقوب ته برکت ورکړ.
یعقوب وویل: **په دغه ځای کې مې یهوه خدای مخامخ ولید** خو بیا هم زه اوس ژوندی یم.

---

[4]: د لا زیاتو مالوماتو لپاره د لیکنو (پنځلمسه برخه) ولولئ.
[5]: ﴿وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحۡنُ أَبۡنَٰٓؤُاْ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ﴾
ژباړه:«یهودان او نصارا وایي چې موږ د خدای زامن او د هغه ډېر ګران دوستان یو.» (قرآن: د مایدې سورت. ۱۸ آیت)
[6]: یعقوب: څوک چې د پښې پونده نیسي او د غولونکي (حیلهګر) مانا هم لري.
[7]: اسراییل: څوک چې د خدای پر وړاندې ټینګ (مقاوم) وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او هغه ځای یې (فني ییل) یاني د خدای ځېره ونوماوه. یعقوب لمرخاته مهال په لاره روان شو، ده د هغه زیان له امله چې ادوم ته یې رسیدلی ؤ، ګوډ ګوډ تللو.»[8] (پیدایښت: ۳۲/۲۲څخه تر ۳۲)

د مور په خبټه کې د یعقوب جګړه له خپل غبرګوني ورور او له یهوه خدای سره د زور وهنې په اړه د اسراییلو نبي هوشع په خپل کتاب کې په لږ توپیر سره لیکلي، هغه د یعقوب او یهوه خدای تر منځ د جګړې یادونه کوي، بیا یې په هنر سره د یعقوب زورآزموینه د یهوه خدای پر ځای له پرښتې سره ښودلې ده او یعقوب د یهوه خدای پر ځای پر پرښته باندې بریالی شوی دی:**«د اسراییلو نېکه یعقوب د مور په خبټه کې له خپل ورور سره جګړه وکړه، کله چې ځوان شو له یهوه خدای سره هم وجګړیده،** هو، له پرښتې سره یې غېږه ونیوله او بریالی شو، بیا یې په ژړا او زاریو له هغې څخه د برکت غوښتنه وکړه. په (بې تییل) کې یې یهوه خدای ولید او یهوه له هغه سره خبرې وکړې، هماغه قادر او متعال خدای چې نوم یې یهوه دی.» (د هوشع کتاب:۱۲/۳تر۵پورې)

د یهودو یاغي‌توب د دوی د خدای یهوه لخوا د بې‌شمېره بې‌ځایه لمسونو او هڅونو له امله هم رامنځ ته شوي دي، د اسراییلو خدای یهوه خپل قوم تر دې ځایه د نړیوالو پر وړاندې لمسولی او زړور کړي چې په یو ځای کې ورته وایي چې **« سر له نن څخه به زه ستاسو وېره د ټولې نړۍ د وګړو پر زړونو باندې کېنوم، هغوی چې ستاسو آوازه واوري نو په وېره او وحشت کې به پاتې شي.»** (ګردان:۲/۲۵)

یهودو په خپلو جعلي دیني سرچینو کې داسې درواغ لیکلي چې پر بنسټ یې تل خپل قوم ستایلی او لوړ بللی دی او په ډېرې هوښیارۍ سره یې غیریهودي قومونه سپک او ارموني (حرامزاده) بللي دي، په ځانګړې توګه د (لوط) قوم وګړي یې ارموني او د کنعان قوم (چې د اوسني فلسطین پر ځمکه اوسیدل) چې د حام له اولادې او د یهودو دښمنان وو.
یهودو د کنعانیانو نیکه (حام د نوح زوی) په بداخلاقۍ تورن کړی او د خپل پلار د ښېراوو له امله رټلی او شړل شوی بولي او د خپلو ورونو غلام یې بللی دی خو د یهودو ستر نېکه (سام) چې د حام ورور ؤ، د خپل پلار (نوح) د دعاګانو له امله سرلوړی بریالی او حام یې د هغه غلام ګرځولی دی، په دې اړه د تورات د پیدایښت په کتاب کې وایي:«د نوح درې زامن وو: (سام، حام او یافث) چې [د نوح له توپان وروسته] له بېړۍ بهر شول. (حام د کنعانیانو پلار دی.) د نړۍ ټول ملتونه د نوح له درو زامنو څخه رامنځ شوي دي.
نوح د کرهڼې په چارو لګیا شو او د انګور باغ یې کېناوه، یوه ورځ [نوح] ډېر شراب څښلي وو چې له امله یې په خپله کېږدۍ کې لنډلغر ویده شوی ؤ. د کنعان پلار حام خپل پلار په لوڅ حالت کې ولید، نو ورچېني ولاړ او خپلو دوو ورنو ته یې ورغږ کړ. سام او یافث د دغې خبر په اوریدلو سره خپل څادرونه پر اوږو واچول او د خپل پلار پر لور په داسې حال کې ورغلل چې شا یې د هغه پر لور وه، تر څو د خپل پلار لوڅوالی ونه ویني، بیا یې پر هماغه څادرونو باندې هغه پټ کړ. **کله چې نوح عادي حالت ته راغی او پوه شو چې حام څه کړي دي، نو ویې ویل:**
(کنعان دې ملعون وي.)
د خپلو ورونو مریي (غلام) به وي.
خدای دې سام ته برکت ورکړي او کنعان دې د هغه بنده وي.
خدای دې یافث ته برکت ورکړي، هغه دې له سام سره په ښېګڼو کې شریک کړي او کنعان دې د هغه بنده وي.»
(پیدایښت:۹/۱۸تر۲۷پورې)

یهودان د (موآب او عمون) د قبیلو وګړي له (لوط) سره د خپلو دوه لونو د زنا پایله بولي، او د لوط دوه لونه یې له خپل پلار سره په زنا تورني کړي دي، وایي چې دا قبیلې له آره ارموني دي چې له لوط سره خپلو دوو لونو زناوې کړې چې «مشرې لور یې هلک وزیږاوه او د (موآب) په نوم یې ونوماوه (چې د موآب قبیله ترې رامنځ ته شوه.) کشرې لور یې هم زوی وزیږاوه او د (عمَی) نوم یې پرې کېښود، (چې د عمون قبیله ترې ډېره شوه.) (پیدایښت:۱۹/۳۷-۳۸)

له دې وروسته د اسراییلو قوم د غیراسراییلو (یاني د یعقوب د ورور عیسو) او د هغه له لمسیو او وروستیو نسلو، (عمالیق، ادومیان او نورو قومونو[9]) سره د خپلو مخالفتونو او دښمنیو له امله افساني جوړې کړي دي، هغوی یې

---

[8]: تر نن ورځې پورې بني اسراییل د رګ النِساء د غوښې برخه چې د حیواناتو په ورانه کې ده نه خوري ځکه چې دغه برخه د یعقوب د ورانه برخه ده چې په هغه شپه یې د یهوه خدای سره په پهلوانۍ کې زیان لیدلی ؤ.
[9]: د پیدایښت کتاب:۳۶څپرکی. له ۵ آیت څخه تر ۲۱آیت پورې ولولئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بتپرستان او د دوی ښځي يې زناکاري بللي، تر دې چې خپل دين ته يې د دوی ورتلل هم منع کړي دي چې اوس هم اسراييل د عماليقه قوم پر ټولوژنو وياړي چې د اوسنيو فلسطينيانو سره د عماليقه قوم په څېر چلند اړين او واجب بولي.

(په غزه کې د اسراييلي قاتلانو لخوا د معصومو پرښتو بېرحمانه وژنې.)

نېټه: ۱۴۰۳/۱/۳۱ل. ل

نور بيا

د ښاغلي محمد انور اخڑ نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ